بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سر یال نمبر: 561

يووالی، ايمان، انضباط

دملت غږ

# جنوبي وزيرستان؛ د خوارج پر وړاندې د امنيتي ځواکونو بله بريا، يو ترهګر جهنم ته استول شوی

جنوبي وزيرستان؛ دامنيتي ځواکونو په عملياتو کې يو ترهګر دسپينکي رغازي په مضافاتو کې د پټو معلوماتو په اساس ووژل شو۔ وسلې او مهمات برآمد شوی۔



**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د شتون د خبر په اساس د دوی مرکز محاصره کړ۔ په دې موقع ترهګرو د تيښتې هڅه وکړه خو د دژو په تبادله کښې يو ترهګر ووژل شو۔ څوک چې د ترهګری په ګڼو پيښو کې لاس درلود۔**

په جنوبي وزيرستان کې ګمارل شوي امنيتي ځواکونه د ترهګرو د دردناکه انجام د رسولو لپاره سخت کار کوي۔ په داسې حال کې چې ترهګر د پټېدو او تېښتې په هڅه کې خپل ژوند له لاسه ورکوي۔ انشاءالله د خوارجو د له منځه وړلو لړۍ به دوام لري۔